# د پیر روښان د سیاسي شعور تحقیقي او تنقید مطالعه

# A Research and critical study the Political thoughts of Pir Rokhan

Miss, Shazia Noor*
Dr. Ferkhanda Liaqat**

**Abstract:**

There are many personalities in Pashto literature whose political services are appreciated in addition to their literary services. Among them are Amir Carore baba, Beit Nika, Khushal Khan khattak, Ashraf Khan Hijri, Afzal Khan Khattak, Ahmad Shah Abdali and Bayazid Ansari Pir Roshan. Among these personalities Bayazid Ansari is the one who wrote the first complete Pashto book " khair- ul- Bayan " The Pashtuns were liberated, and his friends and followers also joined him in this movement,but he also had many opponents including Akhun Darwaza Baba,but Bayazid Ansari didn't care. Bayazid Ansari, despite his few friends and opponents,has largely succeeded in his political missions, which has led to the development of a literary movement among the Pashtuns as well as a political movement which is still mentioned.

**Keywords**: Khair Ul Bayan,Pashtun Liberation, Literay Movement, Political Movement

دا یوه خبره ښېخي سمه ده چې د مذهب په نوم هر جنګ په شا خپل یو سیاسي مقصد لري. دغه جنګ د اقتصاد هم کېدے شي دغه جنګ د وسایلو د تر لاسه کولو هم کېږي او دغه جنګ په انسانانو د حکمرانۍ د پاره هم کېږي. پښتنه سیمه چې ټول عمر هم د داسې جنګونو سره مخ شوه پښتانهٔ ټول هم دغې جنګونو له قربانۍ ورکړې لکه دا خبره پاکه ده چې محمد بن قاسم یا محمود غزنوي کله هم د اسلام د خپرولو د پاره نهٔ وو راغلي بلکې مقصد ئې مال دولت لُوټل وو. خو په دغه جنګونو کښې پښتانو صرف په دې غرض کردار لوبولے دے چې دا د اسلام جنګ دے او کهٔ مونږه دا وکړو نو یا به غازیان شو او یا به د

---

* Visiting Lecturer, GPGC Charsada Khyber Pakhtunkhwa
** Associate Professor, Pashto Academy University of Peshawar

جنګ لار واخلو ـ کۀ تاریخ ته نظر شو نو د محمود غزنوي جنګونو کښې بلها پښتانۀ مړۀ شوي ـ چې د هغې وخت سره د هغې ټپې هم موجودې دي لکه دا ټپه چې !

"که د خالو لښکرې راغلې
زۀ به ګومل ته د خپل یار دیدن له ځمه"

ډاکټر راج ولي شاه خټک په دې حواله وائي چې " خالو خان د محمود غزنوي سپه سالار وۀ"۲ هم دغه هر جنګ چې چرته هم کېږي نو په شا ئې د دربم ګړي لاس وي ـ لکه د افغانستان د سور انقلاب نه پس د طالب او د حکومت جنګ هر څو کۀ د اقتدار جنګ وۀ خو د طالب په شا دربم لاس امریکه او د هغوي اتحادیان وو چې دغه جنګ ئې د روس د کمزوي کېدو او د دنیا په منډاهۍ د خپل لاس د مضبوطیا له پاره کوۀ ـ ولې دا جنګ خالص د اسلام په نوم روان وۀ ـ هم دغسې یو جنګ یو تحریک روښاني تحریک هم دے چې د پښتنو د بېدارۍ او پاڅون ورسره بې د مذهبه بله لار نۀ وه له دې وجې دا جنګ سل کاله وچلېدو خو نن هم زمونږه ډېر پوهان دغه جنګ ته په مذهبي چشمو کښې نظر کوي حالانکې زما د نظره دا یو سیاسي جنګ وۀ چې تفصیل سره ئې بیانوم ـ

د سیاسي شعور نوغې په انساني ژوند کښې هاغه وخت مخې ته راغلې کله چې په دۀ کښې د خاندان تصور پېدا شو ـ او بیا د دۀ ژوند په ګډه سره تېرول شروع شول ـ د خاندان مثال په اول اول کښې لکه د حکومتونو وۀ د هر قام خپل ائین او دستور چلېدو ـ د هرې قبیلې مذهبي تصور د بل نه جدا وۀ ـ هم دغه خاندانونه ورستو د ملکونو په شکل کښې مخې ته راغلي دي چې نن نړۍ په ملکونو او براعظمونو وېشلې شوې ده ـ سیاست د دوو تنو د ژوند د تېرولو طریقې نه وجود مومې او هم دغه سلسله په خاندان او په قامونو راتېرېږي ـ سیاست د انساني ژوند د پاره د جبلت کار ورکوي ـ لکه که په یو کور کښې یو مشر نۀ وي نو د هاغې کور حالت کمزورے وي په نسبت د هاغې کور د کوم کور چې مشر وي ـ هم دغسې مثال د قامونو هم دے ـ چې په ګډه به د خپل مخکښې ژوند لارې چارې لټوي قوانین او ائین به په پکار راولي او دغۀ هر څۀ د سیاست په زور کېږي ـ

خو ولې مشر ټاکل او غوره کول که مونږه په تاریخي نظر سره وګورو نو په نړۍ کښې چې قامونو څومره هم مشران یا باچایان ټاکلي دي په دوو طریقو دغه مشر یا چا ټاکلي شوي دي ـ یو هغه طریقه ده چې مذهبي پېشوه د قام مشر وټاکلے شي او بله هغه طریقه

ده چې د قبيلې يا قام په مشترکه رائې غوره سړے د مشرۍ په څوکۍ کښېنولے شي۔ خو ولې عمر له د انتخاب دغه دوه طريقې د يو بل په ضد مخې ته راغلې دي۔ په اول اول کښې چې د انسان فکر د ارتقا سره مخ وۀ او تره ډېره وخته د دنيا چې څومره هم لرغونې تهذيبونه تېر شوي دي د هغوي د مشر انتخاب د مذهب په زور شوے دے نه چې د اولس په خوښه۔ بلکې د نمرود، فرغون مصر نه واخلې تر سکندر اعظم پورې چې څومره هم تهذيبونه تېر دي په ټولو کښې باچا ته د ديوتا، يعني د خدا ے حېثيت حاصل وۀ ولې چې مذهب د انسان هغه کمزوري ده چرته چې د ے د خدا ے د ويرې په خپل ځان هم صرفه نۀ کوي۔ د دې په شا هم دغه سياسي محرکات وو چې بې شعوره اولس که خپل څۀ جمهوري فکر نه لرو خو ولې مذهبي مشرانو او ځنې جاګير دار يا سرمايا کارو زورورو اولس په مذهب دهوکه کوو۔ له دې وجې نه هغوي د باچا اطاعت په هر مذهب کښې د خدا ے اطاعت ګرځولے دے۔

په هم دغه موضوع نن مونږه د پښتنو د ملي اتل بايزيد انصاري پيرو روښان (۹۳۱ هجري نه تر ۹۸۳هجري) په سياسي شعور بحث کوو چې تر ننه ئې زمونږه ډېر پوهان مذهبي طور يو مبارز ګڼي خو ولے سياسي طور ورته شائد چا پام نۀ وي کړے لکه ډاکټر راج ولي شاه خټک ليکي!

"ولې هر کله چې مونږ ته د پير روښان په تعليماتو کښې د ادبي
او مذهبي اصلاحاتو نه علاوه نور څۀ په نظر نۀ راځي نو ځکه
د هغه تحريک يو خالص مذهبي تحريک ښکاري" [1]

د دې هر څۀ نه پرته که مونږه د پيرروښان ژوند او د هاغه وخت حالات په نظر کښې وساتو نو د پيرروښان د مذهبي او سياسي شعور سپيناوے به په ډاګه شي۔ تر ټولو اول خبره دا راپورته کېږي چې ايا د پير روښان په وخت کښې سياست په کوم ډول چلېدو خلق د جمهوري يا پارليماني سياست نه خبر وو که نا۔ په کابل يا هندوستان کښې د باچا اقتدار ته راتلل په کومه طريقه کېدل۔ حکومتونه جوړېدل او ورانېدل په کوم ډول وو ولې چې د عربو د عباسي حکومت نه واخلې تر محمود غزنوي دورې پورې ټول جنګونه په قبايليت کښې دننه د مذهب په نوم شوي دي۔ هم دا ټول سوالونه که مونږه په نظر کښې وساتو او د دې تسلي بخش جوابونه پېدا کړو نو بائد په پير روښان به څوک هم داسې رائې بيا ورنکړي چې هغه خالص مذهبي قدم پورته کړے وۀ۔ دلته بائد دا خبره اول په ډاګه کړم۔

هر کله چې بایزید په ښۀ او بد پوهه شوے وۀ نو هغه خپل ماحول په نظر کښې ساتلے وۀ. هغه لیدل چې مغلو د پښتنو کورونه ورانول زور زیاتي ئې راخستي وو او بیا قندهار ته چې د تجارت د پاره بایزید تلے وۀ او هلته ئې مال لُوټ کړې شه . مغلو ته خپله چاړه په ابو کښې ځلېده او دا ورته ته ښکاره وه چې که په هندوستان کښې کوم قام دا توان لري چې زمونږ نه حکومت واخلي نو هغه پښتانۀ دي. او بله دا خبره هم ده چې مغلو د هندوستان واک د پښتنو نه اخستے وۀ. او له دې وجې ئې هم د انتقام اوور په پښتنو سرو ۀ.

په داسې حال کښې چې ټول قام د بې حسۍ ښکار وي نۀ څوک تعلیمي شعور لري او نۀ څوک سیاسي یا قامي شعور لري. نو ایا د یو قام پاڅون به په کومه طریقه کېدۀ هغوي به خپل تس نس قام د غر غوندې مغل ته څنګه مخامخ کوۀ ؟

هم دغه وجه وه چې پیر روښان یو ډېر ژور پوهه انسان وۀ د تعلیم د نشت باوجود ئې هم چې د قام د پاڅون د پاره کوم شعور لرلے دے د هغې اعتراف د هغۀ دشمنانو هم کړے دے. لکه د اخون درویزه دا خبرې تاسو وګورئ !

"بایزید ډېر په عقل پوره وۀ د دنیا عقل ئې ډېر وۀ هوښیاري
او زیرکي ئې ډېره ذده وه"[2]

اوس اخون درویزه داسې خو نۀ شو وئیلې چې ګنې پیر روښان یو سیاسي مبارز وۀ ولې چې یو خوا اخون دورېزه د تعصب د سیوري لاندې د پیر روښان په ضد لګیا وۀ او بل خوا د اخون درویزه سیاسي فکر هم دومره نه وۀ چې د پیر روښان په چال پوهه شوے وې. بلکې دا خبره هم کېدے شي چې ساده او په مذهب مئن اخون درویزه د مغلو په لاسو لوبېدلے وي لکه د اکبر د دین الهي په باب له خاموشه پاتے کېدل او پیر روښان ته په هره خبره کافر او ملعون وئیل نور څۀ کېدے شي ؟

لکه مولوي محمد حسن لیکي !

"بایزید خپل ځان ته بایزید مسکین وایۀ. قبایلي خلقو پیر روښان بالۀ. اکبر ، ابولفضل او نور مخالفینو پیر تاریک بالۀ. اخون درویزه ئې سخت دښمن وۀ دۀ د یو مخلص افغان خلاف د یو داسې باچا ملاتړ کاوۀ چې هغۀ نوے دین احتراع کړے وۀ.[3]"

هم دغسې د اکبر خپل مؤرخ مونسیراټ هم وائي چې !

*"بادشاہ مسلمان نہیں رہا حالانکہ لیکن وہ تمام مذاہب کے بارے میں تشکیک کا شکار ہے۔ وہ اس بات پر یقین رکھتا ہے کہ کوئی بھی مذہب سچا مذہب نہیں ہے۔[4]"*

باچا مسلمان پاتې نۀ دے حالانکې هغۀ د ټولو مذهبونو په حقله د تذبذب ښکار دے او پۀ دې خبره يقين لري چې هغه يو مذهب هم خدائي رښتونے مذهب نۀ دے.

کۀ دا ټولې خبرې مونږه په نظر کښې وساتو د پير روښان مخالفينو اخون درويزه او پير بابا ته وګورو نو خبره پاکه ده چې ايا دوي د اکبر خلاف خپله فتوه ولې نۀ جاري کوله. يو سړے چې له دين نه بهر دے خو باچا سلامت دے نو د هغۀ د اطاعت تبليغ کېږي. ولې بل طرف ته يو صوفي چې بار بار وائي چې زۀ مسکين يم او د خدا ے د وحدانيت تصور وړاندې کوي نو هغه باندې د کفر داغ لګوي. خو يو پير روښان وه چې خې "مقصود المؤمنين ئې اکبر ته لېږلے وۀ". هم دغسې حبيبي صبب هم وائي چې !

"بايزيد لومړي د دربار او سياسي واکمنو په لارښونه لاس پورے کړو او د صراط التوحيد د کوچنۍ رسالې له لارې ئې نصيحتونه دوي ته ورسول دۀ مخلص مريدان هم پېدا کړل چې تر مرګه پورې ئې د دۀ ملا وتړله "[5]

اکبر ته ته ئې د وحدانيت سره سره د خپلې مريدۍ دعوت لېږلے وۀ. د دې نه د پير روښان مړانه په ډاګه کېږي.

لکه څنګه چې ما مخکښې ووئيل چې پير روښان د مغلو زور زياتي لېدل او دا ئې هم ليدل چې پښتانۀ ورځ په ورځ لوټلے کېږي. د دې د پاره پير روښان چې کوم فکر اختيار کړے وۀ هم دغه د پير روښان غوره سياسي شعور کېد ے شي. لکه پيروښان دا فکر هم کوۀ چې د اکبر سره به خپله مبارزه څنګه پېل کوم خو ولې بل خوا ئې دا فکر هم لرلو چې په دې بې حسه قام کښې به ځان دپاره ډله څنګه پېدا کوم. ولې چې د خپل قام په نفسياتو پوهه وۀ خپل ژور نظر ئې لرلو د افرېدو په حال هم خبر وۀ چې څومره اوبو کښې وو او د خليل موند يوسفزو او تيراهو هم. پير روښان د ځان نه وړاندے د قامونو په حال خبر وۀ. له دې وجې هغه سره بله کومه لار نه وه چې د مغل سره ئې خپله مبارزه په ښکاره ډول وړاندې کړې وې.

له دې وجې پیر روښان تر ټولو اول د ځان د پاره په خپل قام کښې ډله پره جوړوله‌یو داسې ځوان چې لا خو په خپله معاشره کښې ورور هم نه لري هغه به قام په څۀ طریقه بېداروي. او دلته که اوس زه دې خبرې له راشم چې د پیر روښان د معاشرې نفسیاتي جائزه واخلم نو سیاست به د هاغه دور وپېژندے شي . دخپلې خبرې د وضاحت په طور د حبیب الله رفیع صېب دغه اوږد اقتباس رانقل کوم.

"روښان پیر ولیدل چې غولونکي پیران خلق د ژورو غوندې زبېښي. ظالم حاکمان په اولس بې حده ظلم کوي. او په مقابل کښې اولس بې سواده او د علم او ادب نه محرومه دي. نو د دې ټولو دښمنانو سره ئې مبارزې ته ملا وتړله"[6].

هم دغسې مخکښې لیکي!

"د سیاست په ساحه کښې دۀ د ماشومتوب د معصومیت په سترګو ولیدل چې په هند کښې د پښتنو د واکمنۍ له سقوط سره مغلي واکمنو د پښتنو کورنو سره څۀ ناشندې راواخستې حتي چې په شپږ کلنۍ کښې دے په خپله هم خپلې کورنۍ سره د مغلو د تخت او تاراج په منګولو کښې ومروړل شو. او د جالندهر نه تر پښتونخوا پورې د راتلو په لاره کښې ئې هر څۀ ترې لُوټ کړل او بیا ئې په ځوانۍ کښې هم د مغلو ډېر مظالم ولیدل چې د پښتنو سره ئې کول ان چې په کندهار کښې ئې یوه پښتنه ولیده چې مغلو ئې د سر وېښته له ژرندې سره تړلي وو. د پردو د دې اوږدو مظالمو په عکس العمل کښې دۀ هوډ کړے وۀ چې په پښتونخوا سیمه کښې د پښتنو واکمني بیا راژوندۍ کړي. او پښتانۀ د نورو د مظالمو د غلامۍ څخه وژغوري"[7]

دا هر څۀ پیر روښان هم لیدل او د دغه وخت نورو مسلمانانو پښتنو هم لیدل خو ولے حساس او زیرک صرف پیر روښان وۀ چې د دې هر څۀ نه د خلاصي چارې ئې لټولې. او له دغې خلاصي حل صرف یوه لاره وه چې پیر روښان به پرې پاڅون کوه او هغه مذهب وه. انسانان په هر مذهب کښې که په فوج کښې جنګېدلي دي نو صرف د باچا د تابعدارۍ او وفادارۍ په سبب جنګېدلي دي. په هر مذهب کښې د قام د پاره جنګ جهاد ګڼلے شوے دے

ـ خو ولې دغه ټوقه د مسلمانانو سره هاغه وخت شوې ده کله چې هغوي د محمد بن قاسم یا محمود غزنوي سره په هم دې نیت روان شوي چې د باچا حکم منل د الله او د رسول حکم منل دي. اخون درویزه چې د پیر روښان کوم عقل ته اشاره کوي هغه هم دغه خبره ده چې پیر روښان خپل سیاسي بېداري د مذهب په زور په خلقو کښې راوسته او مذهب د انسان یوه فطري کمزوري ده.

پیر روښان هم دغه طریقه خپله کړه او د خپلې پیرۍ غړ ئې پورته کړو دغې پیرۍ په لړ وخت کښې پیر روښان ته بلها مریدان پتنګان ورکړل او پیر روښان په خپل سیاسي مقصد کښې کامیابه شو. اخون درویزه چې په پیر روښان کوم الزامونه لګولي د هغې تفصیل ډاکټر زبیر حسرت په تفصیل سره په خپل کتاب کښې ورکړے چې مونږ ترې دلته هاغه الزامونه نقل کوو د کومو نه چې د پیر روښان سیاسي شعور په ګوته کېږي.

- "بایزید خپل ځان د خداے مظهر ګڼلو.
- خپل مریدان به ئې اخر د نیک عمل نه پاتے کړل او په لوټ تالان به ئې اخته کړل.
- د دۀ په مریدانو کښې ښځې هم شاملې وې چې د عام اولس د پاره ئې یوه لویه تماشه جوړه کړې وه چې خلق ځان ته رامات کړي."[8]

اوس که د اخون درویزه دغه الزامونه مونږ په نظر کښې وساتو نو اول خبره دخداے د مظهر ده. که یو خوا د تصوف په دواړو نظریو (وجود او شهود) کښې هر څۀ د خدایه ګڼلے شي نو بل خوا ما دا خبره هم کړې ده چې باچا ته د دیوتا یا د خداے درجه یا د خداے سیورے یا د خداے نازولے په هر وخت کښې وئیل شوي دي. او له دې وجې پیر روښان ځان د خداے مظهر ګرځوۀ چې اولس په ما خپل سرونه وشیندي. دوېم الزام چې خپل مریدان ئې د نیک عمل نه پاتے کول او لوټ تالان ئې پرې کوۀ نو دلته د پیر روښان سیاسي مقاصد په ډاګه کېږي چې اخر هغه او د هغه مریدانو توره ولې راخسته او بیا اکبر باچا د هغه نه دا ویره ولې کوله چې دا سړے زما حکومت ته حطره ده. د مغلو سره د جنګ جګړو نه علاوه داسې یو ثبوت نشته چې د پیرروښان مریدانو لوټ تالان کړے وي. بلکې د اخون درویزه اشاره د اغاز پور مال غنیمت ته ده. بله خبره که چرې مونږه پیروښان خالص مذهبي وګڼو نو پکار خو دا وه

چې د هغه مرېدانو او هغه چرته يو ګوټ کښې ګوشه نشيني اختيار کړے وے صوفيانو خوکله هم د دنيا هڅې نه دي کړي. او پير روښان او د هغه مريدانو جنګ ځنګه کوۀ. اکبر باچا د پير روښان خلاف جنګ ولے کوۀ. په هغه دور کښې که د زماني باچا سره چا هم جنګ کړے دے نو صرف د سياسي مقاصدو د پاره ئې کړې دے. او که اوس چرې مولانه عبدالقدوس قاسمي صيب يو خوا روښاني تحريک ته خالص مذهبي تحريک وائي ولې بل خوا داسې ووائي چې "روښاني تحريک يو مذهبي تحريک وۀ خو ولې چې سياست ته ئې ګوتې واچولې نو دل دول شو"[9] نو سوال پېدا شي چې ايا سياست ته ئې ګوتې ولې واچولې ضرورت څۀ وۀ د دې خبرې يو جواب کېدے شي او هغه هم دا چې پير روښان خپل سياسي شعور لرلو او د هغې د پاره ئې خپل فوځ د مذهب په نوم رابېدار کړے وو.

د اخون درويزه دا دربېم الزام ډېر عجيبه دے چې په مجلس کښې به ئې ښځې سړي په يو ځاے ناست وو. د دې د پاره چې خلق ځان د ته متوجه کړي. دلته د پير روښان سياسي شعور نور هم رڼېږي. يو خو دا چې د پير روښان په داسې دور او داسې قام کښې KO EDUTICATION ورکول ډېر ناشونې او د فخر وړ خبره ده. يو خوا پير روښان دا ليدل چې شائد ښځې هم د قام متې دي او بل خوا ترې دا خبره هم اخذ کېدے شي چې پيرروښان د مذهب سره دومره دلچسپي نه وه ځومره چې ئې په قام راغونډولو کښې وه.

د پورته بحث نه دا نقطې ځرګندېږي چې هغه خلق چې د احساس کمترۍ له وجې په تصوف کښې اخته شوي وو او له دنيا نه لري وو هغوي پير روښان هم د دغې تصوف د لارې رابېدار کړل. د پښتنو لاشعور ته د عرفان د لارې قامي او د ازادۍ ولولې ورواچول شوې. پښتنائۀ د ازادۍ په لور روان شول چې د روښان نه پس مغل په يو نه يو شکل کښې د پښتون قامي تحريک سره مخ شوي وو.

عارف غروال ليکي!

> "دۀ په زرګونو فدا کار او او سرتېري مريدان وروزول او د مبارزې په مېدان کښې ئې ودورل ،دوي په تش لاس د غښتلي او زورور دشمن سره جنګېدل او په خونړو جګړو کښې به ئې سرونه قربانول "[10].

د پير روښان په حقله مغل مؤرخين هم د دروغو او د تعصب ښکار شوي دي.خو د مغلو دا لوبه يوائې پير روښان سره نه ده شوې بلکې د ټول پښتون تاريخ سره شوې ده چې پښتانۀ

ئې غلۀ او ډاکوان ګرځولي دي. هم دغه وجه ده چې تر ننه زمونږه دا اتل ورک وۀ. او که ورک دے نو هم د مذهب په نوم ورک شوے دے. چې مغلو ورپسې خپل تابعدار اخون درویزه لګولے وۀ. زما د دومره اوږد او خور وور بحث په رڼا کښې بائد چې د پیر روښان سیاسي شعور په ډاګه شوے وي. پیر روښان پښتانۀ په یو تار راټول غوښتل او د هغې د پاره هغۀ سره د مذهب نه بغېر بله یوه چاره هم نه وه . پیر روښان دخپل قام د ازادۍ په حاطر خپله مبارزه وړاندے کړې وه چې خپل ځان او خپل ځامن ئې پکښې وبائیلل. د مغلو سره چې وروستو څومره هم جنګونه د پښتنو د سیاسي او قامي ازادۍ او بېدارۍ د پاره شوي دا ټول د پیر روښان د سیاسي شعور هاغه ثمره وه چې هغۀ کرلې

## حوالې

[1]: خټک ، راج ولي شاه ، د پښتو ادبي تحريکونه، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ص ۲۴۳

[2]: دروېزه، اخون، تذکره الابرار و اشرار، پښتو اکېډمي ، چاپ کال **۱۹۸۷** مخ **۱۴۸**

[3]: افغان ، مولوي محمد حسېن ، مجله د اتحاد افغاني ،مئ **۱۹۴۰** مخ **۴۵**

[4]: مونسيراټ ، اکبر کا هندوستان ، ترجمه مبارک علي ، فکشن هاوس لاهور ، **۲۰۰۷** ، مخ **۶۸**

[5]: اکبر ، عبدالکبر خان ، روښانيان د مغلو تاريکيان ، **۱۹۹۵**، مخ**۸۷**

[6]: حبيبي ، عبدالحيې ، د افغانستان لنډ تاريخ ، دانش خپرندويه ، **۱۹۹۹**، **۲۵۶**

[7]: رفيع، حبيب الله، بايزيد انصاري پيرروښان، ملت اېجوکېشنل پرنټرز ، مخ **۱۹**

[8]: هم دا کتاب مخ **۲۰**

[9]: حسرت ، محمدزبېر، روښانيان او خوشحال، زرپاڼه پرنټرز محله جنګي پېښور، چاپ کال **۲۰۰۴**، مخ **۱۸**

[10]: غروال ، محمد عارف ، د پښتو ادب په پرمختيايي بهير د روښاني غورځنګ اغېزې ،صدف مطبعه کابل، مخ **۲۵**

## References

1:Khattak, Raj wali shah, Da pukhto adabi tahrekon, pukhto academy university of Peshawar, 2004, p243

2: Darweza, Akhun, tazkart ul abrar wa alshrar, Pashto p148

3:afghan molvi Muhmad Husain, majala da itehad afghani, p54

4:Monserat, akbar ka hindostan, Translat Mubarak ali,Fiction Hous, p28

5: Akbar, abdul akbar Khan, Rokhanyan da Mughalo tarkyan,1995, p87

6: Habibi, Rafi Ullah, baya zid Ansari, pir rokhan, melat, educational, p19

7: Same Book

8: Hasrat Muhammad Zubair, Rakhanyan aw khushal, zarpanra 2004, p18

10: Gharwal, Muhammad Arif, pukhto adab po parmkhtaye baheer k, rokhani Ghurzan, p25